ژباړن: ابراهیم نعیمی نیټه ۲۰۱۰-۱۱-۰۹

# نوی مبارک دراتلوپه حال کی دی

Jyllands – posten tirsdag d.۲,۱۱,۲۰۱۰
دپورته ډنمارکی ورځپانی څخه ژباړل شوی دی.

**مصر: سره ددی چی اوازی داسی دی چی دمصر ولسمشرحسنی مبارک غواړی چی د ولسمشری چوکی خپل زوی ته په واک کی ورکړی ولی سیاسی مبصرین په دی پروژه باندی ډیرباوری نه دی. دسیاسی مبصرینو ارزونه داسی ده : داچی جمال مبارک فوځی زده کړی نلری نو دنوموړی چانس دی مقام ته لږدی.**

ولا میکاوی ددولتی ګوندغړی وایی: زماپه نظربه دابس وی Walaa Mekawy
چی نوموړی داوسنی ولسمشرزوی دی نو باید جمال مبارک مسقیماً دګوندمشروی او وروسته دولسمشری مقام هم ترلاسه کړی.

مګر دنوموړی دنظرسره نه یوازی په عواموکی مخالف شته دی بلکه ددوی دخپل ګوند په دننه کی هم ډیره کی ورسره همږغی نه دی. سیاسی مبصرین علاوه کوی چی پورته نظرییی به کوم ځای ونه نیسی، سره ددی چی یوکال کیږی چی دمصر په کوڅوکی دا اوازی خپری دی چی ناست ولسمشر«حسنی مبارک» غواړی چی خپل زوی دولسمشری پرمقام کښینوی. دسیاسی شنونوکو په اند بیلابیل دلایل شته چی دا چاره به بریالیتوب ته ونه رسیږی:
« ناست ولسمشر، مبارک باید دیوی فوځی په واسطه تعویض شی چی جمال فوځی نه دی. هیڅ غیری فوځی دمصرهیواد په داسی شرایطوکی چی داسراییلو سره فوځی ستونزی شتون ولری، نشی اداره کولای، ترڅوچی دفلسطین او اسراییلو ترمنځ صلح رامنځته نشی. که چیری هیواد یوکمزوری مشر ولری او د هیواد په دننه کی ستونزی رامنځته شی، ددی خطره شته چی حالات نورهم پیچلی شی.»

**په قوی اټکل به یوملکی سړی مشرشی**

دحسنی مبارک دګوند یولوړ پوری چارواکی، عبدالمونیم سید په لویه اندیښنه کی شو کله چی دجمال مبارک د ټاکلو په اړوند دولسمشر دچوکی لپاره خبری ګرمی شوی دی، نوموړی خپل نظرداسی بیانوی:
« زه فکرنه کوم چی جمال مبارک به کله هم دمصر ولسمشرشی. نوموړی د ولسمشرزوی دی مګردا شمالی کوریا نه ده. دده موخه داوه چی په وروستی وختونوکی دشمالی کوریا دولسمشرKim Jong-Is زوی، Kim Jong-Un دپلار پر ځای دولسمشری چوکی ترلاسه کړه.»
« غښ چانس شته چی ترحسنی مبارک وروسته یوغیری فوځی دهیوادمشری وکړی. زه ډاډه یمه چی راتلونکی ولسمشر به ونه غواړی چی په همغه ډول چی دناست ولسمشر په ډول دی، فوځی سابقه ولری.»

**دخطرناکه ناروغتیااوازی**

حسنی مبارک تقریباً (۳۰) کاله کیږی چی دهیواد ولسمشردی. نوموړی دفوځ په هوایی قوتونوکی دنده درلوده چی د دفاع وزارت مرستیال هم وه. کله چی ولسمشر انورسادات ووژل شو نوموړی تشویق شو چی دولسمشری دنده پرغاړه واخلی. او نوموړی هم داچاره پرغاړه واخیسته. ډیرکسان په دی اندی چی دنوموړی فوځی وړتیا ددی باعث وکرځیدل چی دمصر هیواد داتیامیلونو وګړو رهبری داسی وکړی چی کومه ډارونکی پیښه دنوموړی دولسمشری په دوران کی رامنځته نه شوه. مګر دحسنی مبارک دوژونکی ناروغتیا اوازی دډیر پخوا څخه دی ولی هغه وخت ډیرو باورته نژدی شوی کله چی نوموړی دروان کال په لومړیو وختونو کی دالمان په یوروغتون کی عملیات شو.

**امنیتی مشرد ولسمشری لپاره یووړاندیز دی**

دجمال مبارک په اړوند داسی بیان کیږی چی نوموړی یوروڼ اندی، هوښیار او دښه ژبی خاونددی. مګربیاهم ډیرکسان په دی باورنه دی چی نوموړی به وکولای شی چی مصر په ښه ډول اداره کړی په ځانګړی ډول به ډیره ستونز منه وی چی دهغه غښتلی فوځ ښه رهبری وکړای شی کوم چی دنوموړی پلار دولسمشری دمقام په چاپیریال کی روزلی او جوړکړی دی. ددغه مفکوری سره دفوځ مشران په بشپړ ډول همږغی دی کله چی دجمال مبارک دټاکلو په اړوند بحثونه کیږی.
په اوسنی وخت کی د ولسمشری دمقام لپاره دحسنی مبارک ډیرمحرم او نژدی سړی سلیمان چی په عینی وخت کی دامنیت مشرهم دی، ډیریی نوم یادیږی. که څه هم نوموړی اوس د(۷۵) کالودی ولی دنوموړی لوړعمرددی باعث نشی کیدلای چی دهغه وړتیا ته زیان ورسوی. دحسنی مبارک په قول نوموړی ترلومړی وزیر، احمد نظیف


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وټاپ(لوړ چار واکی دی) ته نژدی دی. اوهم دی وه چی دسولی دخبرو جریان یی د فلسطین او اسراییلوترمنځ رهبری کاوه.
ځینی سیاستوال وایی چی کیدای شی چی سلیمان ولسمشرنه نشی ځکه نوموړی د واکمن ګوند غړی نه دی. ولی نوربیا په دی باوردی چی دلاسلیکونو په راټولولو او نوروتخنیکی عملیو په کړنه سره دټاکلو وړتیاپیدا کولای شی.

**مبارک هم بل ځل**

دمصرد دود په بنسټ ولسمشراسعفأنه کوی. دوه مخکنی ولسمشران د دندی په درشل کی مړه شوی دی. ډیری په دی باوردی چی حسنی مبارک به دولسمشری ددندی څخه ځان ګوښه نه کړی، ولی په یوه شرط، که معالج ډاکټران مشوره ورکړی چی کیدای شی دسالم سوچ وهلو قابلیت یی دلاسه ورکړی دی، نو په دغه صورت به ددندی څخه استعفأ وکړی. نوځکه داسی اټکل کیږی چی حسنی مبارک به په راتلنکو ټاکنوکی ځان دولسمشرپه حیث ونوموی.
دنوموړی نژدی مشاورین هم داخبرمنی چی(۸۲) کلن ولسمشرحسنی مبارک به بیاهم ځان د ولسمشری دمقام لپاره ونوموی ولی د ولسمشر لخوا دا خبرنه دی تأییدشوی.
دسیاسی شنونکو په اندپه هرحال په کلکه سره هڅی روانی دی چی دواک لیږدون دناست ولسمشر څخه وراتلونکی ولسمشرته په ارامه او مطمینه توګه وشی. که چیری ناست ولسمشرحسنی مبارک بیاهم دولسمشری دمقام لپاره ځان ونوموی، بیله شکه له ده نه به وروسته په واک کی تشه رامنځته شی. یوه مهمه دنده اوس داده چی په ټینګه حالات داسی باوری شی چی فوځی کودتاه ونشی ځکه ډیری کسان به په پوره باور هڅی وکړی چی داتشه ترحسنی مبارک وروسته ډکولایشی.

**دلویدیزوهیوادونودلچسپی**

لویدیزهیوادونه هم ددی موضوع سره چی څوک به په یوټاکلی وخت کی دحسنی مبارک بدیل وی، بی علاقی نه دی.
دلویدیزوالو لپاره دمصرهیواد دتیریدنی هغه لارده چی ستونزمنوسیموته لاره موندلای شی.
دلویدزوالو لپاره په زړه پوری ده چی واکمن وکولای شی چی دمباحثی دروازی د ګډبازار دهیوادونو او د امریکی لپاره پرانستلی وساتلای شی، سره ددی چی دخلکو عمومی مخالفت به دا وښیی چی ګواکی واکمن داسراییلوسره ښی اړیکی لری.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ